شتمني
SHTAMANAI

شنبه | ۲۹ رمضان ۱۴۴۳ / ۱۰ ثور ۱۴۰۱ | ۳۰ اپریل ۲۰۲۲ | سال اول | شماره ۱۹ | ٤ صفحه



**درنو هیوادوالو!**

اختر د الله جل جلاله د لویو نعمتو څخه یو لوی نعمت او د خوشحالۍ د ورځو څخه یوه داسي ورځ ده، چي ساری ئې ډېر کم په نورو دینونو کي لېدل کیږي، دا ورځ د مسلمانانو تر منځ د میني، محبت، یووالي او اتحاد ورځ ده، چي الله جل جلاله پر مسلمانانو لورولې ده. راځئ په دې ورځ کي اخلاقي نورمونه په پام کي ونیسو، د بې ځایه سیالۍ څخه لاس واخلو، اسراف ونه کړو، خدای راکړې دارایي بې ځایه ونه لګوو، د اړمنو اړتیاوي پوره کړو، له والدینو سره احسان وکړو، له خپلوانو سره خپلوي وپالو، د یتیمانو سرونه ښکل کړو، زړې دښمنۍ او داخلي پټي کینې ختمي کړو، د ورورولي، سخاء، ورکړي، همدردي او زړسوي روحیه پیاوړې کړو.

## سرمقاله

### کوچني اختر؛ د مسلمانانو تر منځ د میني، ورورولۍ او یووالي سمبول

د روژې مبارکه میاشت د الله تعالی له لوري د مغفرت، رحمت او برکت، مسلمان ملت ته د الله تعالی د مېلمستیا او خپلو بنده ګانو ته د توبې د قبلېدو میاشت ده. په دې میاشت کي قرآن عظیم الشان نازل سوی، د قدر شپه پکښي سته او د کوچني اختر د راتلو میاشت هم ده. په دې میاشت کي شیطانان او اهل فساد په ځنځیرونو تړل کیږي، یوازي د خیر او برکت فرشتې مځکي ته راځي، د الله تعالی له جانبه بندګانو ته د خیر او برکت، د رزق او روزۍ د پراخېدا، د دوزخ له عذابونو د خلاصون پیغامونه راوړي؛ پر همدې اساس د الله مخلص بنده ګان د عبادتونو، خیراتونو، نېکیو، مهربانیو، یو بل سره د مرستي او د بېوزلو د لاس نیوي په موخه د خپلو شتمنیو زکاتونه باسي، د خیر او برکت غوښتني او زارۍ کوي. په دې میاشت کي د اختر را رسېدو ته په ټوله نړۍ کي د میلیونونو مسلمانانو تلوسه وي، د ښې نمانځني لپاره یې د نړۍ په ګوټ -ګوټ کي په میلیونونو پیسې لګوي، په همدې اساس د اختر میاشتي لومړۍ درې ورځي له یوه ځانګړي امتیاز، رنګ او ښکلاوو برخمني وي، چي له یوې میاشتي ځنډ وروسته الله تعالی خپلو مسلمانو بنده ګانو ته د خوړلو او څښلو اجازه ورکوي. د اختر په ورځو کي د مسلمانانو ترمنځ د میني، ورورولۍ او یووالي ورڅې را خورېږي، د یو بل کورته ورتګ پیلېږي، په ډېره مینه او لورېینه خپلوانو دوستانو او ملګرو ته د معتبرو میوو او خوړو انتظامات کوي، په نوو جامو او لباسونو کي لاس په لاس او اوږه په اوږه کور په کور ګرځي، د کوچني اختر مبارکیاني ورکوي او اختریزي ډالۍ وېشي. پر همدې بنیاد؛ د مالیې وزارت مشرتابه، د رهبرۍ غړي، ټول کار کوونکي او په تېره بیا د شتمنۍ خپروني مسلکي ټیم قدرمنو لوستونکو او بیا ګرانو هیوادوالو ته د اسلامي نظام تر سیوري لاندي د زړه له کومې د نېکمرغه کوچني اختر د را رسېدو مبارکي وایي او د لوی څښتن تعالی له عظیم دربار څخه په هیواد کي د سرا سري سولي، ثبات، اقتصادي پرمختګ او ځان بسیایني هیله لري او په دې هیله چي نور افغانان له هر ډول بدمرغۍ، بېوزلۍ او اقتصادي کړاوه خلاص او ارام ژوند ولري.

# د نېکمرغه کوچني اختر د رارسېدو په مناسبت د مبارکۍ پیغام!

## السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

**د نېکمرغه کوچني اختر د را رسېدو په مناسبت د افغانستان اسلامي امارت عالیقدر امیرالمؤمنین، فضیلتمآب رئیس الوزرا، قدرمنو مرستیالانو، د وزیرانو شورا محترمو غړو، اتلو مجاهدینو، د شهیدانو او د یتیمانو کورنیو او ټولو باعفته افغان مؤمن اولس ته د زړه له کومي مبارکي وایو.**




الله تعالی دې ستاسو ټول ځاني او مالي عبادات او د هیواد د ابادۍ او رغوني هڅي په خپل عظیم دربار کي قبولي او منظوري کړي او د هیواد هر یتیم، کونډې او بې وسه اولس ته د سوکاله ژوند نېکمرغي ورپه برخه کړي.

**ګرانو هیوادوالو!**

د مالیې وزارت رهبري او غړي د بشپړي خپلواکۍ په غېږ کي ټول افغان ملت او قومونو ته یووالی او ورور ولي غواړي او د هر افغان لپاره پر خپلو پښو ولاړ او له احتیاج خلاص، پر ځان بسیا افغانستان هیله لري. دا چي د مالیې وزارت په اډانه کي د فساد لمن ورټوله سوې، بودیجه مو د بشپړي خپلواکۍ مزل وهي او پر خپلو ملي عوایدو تکیه کوي، نو د مالیې وزارت د ټولو سیستمونو له فعالولو سره به د یوه منظم پلان له مخي د هیواد د اقتصادي وضعیت مهارولو په لاره کي هم کوټلي ګامونه اخیستل کېږي، لیرې نه ده چي پر خپلو عوایدو ولاړ، شتمن، سمسور او ارام افغانستان به ولرو.

د افغانستان د تل پاتي خپلواکۍ، ځان بسیاینې او سوکالۍ په هیله؛

**الحاج ملا هدایت الله بدري**
**د مالیې وزارت سرپرست**

## په افغانستان کي د نړیوال بانک د ۴۵۰ میلیونو ډالرو په ارزښت د پراختیایي پروژو د بیا پلي کولو په تړاو د مالیې وزارت اعلامیه

د افغانستان اسلامي امارت مالیې وزارت د نړیوال بانک له لوري افغانستان کي د درو سترو پراختیایي پروژو پلي کولو، چي د ۴۵۰ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت دي هرکلی کوي او دغه اقدام د افغانستان د پرمختګ او اقتصادي خوځښت په برخه کي خورا مهم او سترګام بولي. د مالیې وزارت او نړیوال بانک له پرله پسې خپلمنځي اړیکو او د دغه وزارت د هلو ځلو په پایله کي نړیوال بانک پرېکړه کړې، چي د ۴۵۰ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت په افغانستان کي خپلي پراختیایي پروژې بېرته پیل کړي. د مالیې وزارت ډاډه دئ، چي ددغه پراختیایي پروژو له پلي کولو سره به زموږ ګڼ شمېر هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر سي او د هېواد پر اقتصادي وضعیت به مثبت اغېز ولري. همدا شان د مالیې وزارت په پراختیایي برخه کي د افغانستان وضعیت په پام کي نیولو سره د نړیوال بانک له لوري د یادو پراختیایي پروژو پلي کول بس نه ګڼي، هیله لري چي د نورو پاتي پراختیایي پروژو بیا پلي کولو کي هم ورته د یاد بانک له خوا ورته اقدام وسي.




## اخبار مهم هفته



مالیې وزارت د رهبرۍ پلاوي لسمه ناسته

م ۲



د مالیې وزارت او اړوندو ادارو په تائید به نفت او ګاز را واردېږي

م ۳



د ګمرکونو د اصلاحي طرحي د تطبیق په موخه کاري ناسته وسوه

م ۲



مالیې وزارت د عوایدو د حقوقي خدمتونو له رئیس سره د شتمني د خبریال ځانګړې مرکه

م ۳




د هیواد د ډبرو سکاره د ملي عوایدو یوه لویه برخه جوړوي

م ۲

شتمنۍ
SHTAMANAI

# مالیې وزارت د رهبرۍ پلاوي لسمه ناسته ترسره سوه

د ماليې وزارت سرپرست الحاج ملا هدايت الله بدري، په مشرۍ د دې وزارت د رهبرۍ پلاوي لسمه ناسته د ياد وزارت په مقام کي ترسره سوه.

په دې ناسته کي چې د قرآن عظيم الشان د مبارکو اياتونو په تلاوت سره پيل سوه، د دعوت او ارشاد رياست استازي په ګډون د ماليې وزارت ګڼ شمېر رئيسانو او مسؤلينو ګډون کړی وو، په پيل کي د ياد وزارت مشرتابه ته د تېري ناستي پايلي، پرمختګونه، خنډونه او په ګمرکونو کي د باقياتو د راټولولو او تصفيې د مؤظف سوي تخنيکي کمېټې مفصل راپور وړاندي سو.

د ناستي په پرانيستې وينا کي د دعوت او ارشاد رياست استازي، په اسلامي نظام کي د دندو پر ارزښت او په صحيح توګه د نه ترسره کولو پر جزاء او دنوي او اخروي ناوړه پايلو خبري وکړې او له ټولو کارکوونکو څخه يې وغوښتل چي خپلو دندو ته په صداقت او ايمانداري حاضر او ترسره کړي.

وروسته د ماليې وزارت د ګمرکونو او عوايدو معين الحاج ملا محمد ناصر اخند، چې د رواني اوونۍ په سر کي يې د ګمرکاتو د عمومي رئيس سره يو ځای د خوست، پکتيا او پکتيکا ولايتونو ته سفر کړی وو، په سرحدي ګمرکونو کي د مځکي او تعميرونو د ستونزو، په سرحدي سيمو کي د دولتي او خصوصي بانکونو نه شتون او په همدې سيمو کي عامو خلکو ته د درملو او خوړو د ستونزو په تړاو بشپړ او هر اړخيز راپور ګډونوالو ته وړاندي کړ.

د ماليې وزارت سرپرست الحاج ملا هدايت الله بدري، د تېري ناستي د پايلو او کاري پرمختګونو د راپور د اورېدو په تړاو د ناستي له ګډونوالو څخه مننه وکړه او



لارښوونه يې ورته وکړه، چې د نن مجلس په اوږدو کي څرګند سوي موضوعات دي په کلکه تعقيب سي او اړوند کسان دې د يادو ستونزو په تړاو ګام پورته کړي، ترڅو د سرحدي سيمو او په ټوله کي د خلکو او کارکوونکو ستونزي پر وخت سره حل سي.

همدا شان د ناستې په پای کي پرېکړه وسوه، چې د رهبرۍ پلاوي لسمې ناستي د پايلو او پرمختګونو په تړاو راپور دي راتلونکي ناستي ته وړاندي سي.

# د ګمرکونو د اصلاحي طرحي د تطبيق په موخه کاري ناسته وسوه

د ګمرکونو د اصلاحي طرحي د تطبيق په موخه کاري ناسته، د عوايدو او ګمرکونو معين، ملا محمد ناصر آخوند او د ماليې وزارت بېلابېلو ادارو د رئيسانو په ګډون د ماليې وزارت په خيبرهال کي ترسره سوه.

د ناستي په پيل کي د ماليې وزارت د مقام سلاکار خليل الله صالح زاده د اصلاحاتو راوستو، د کارکوونکو او مراجعينو ستونزو ته د رسېدني، له قاچاقو، فساد او وخت ضايع کېدو د مخنيوي په موخه د بېلابېلو کمېټو د جوړېدو او په ټول هيواد کي د يو ډول قانون د تطبيق په اړه د عوايدو او ګمرکونو معين ته معلومات وړاندي کړل. وروسته بيا ګډونوالو د کمېټو په اړه خپل نظريات او وړانديزونه شريک کړل، چې ملا محمد ناصر آخوند له مسولينو وغوښتل چي دغه نظريات او وړانديزونه هم په کمېټو کي ځای ورکړي.



د يادوني ده چې دغو کمېټو کي (د تشويقي امتيازاتو کمېټه، د قيمت ګذارۍ د اصلاح کمېټه، د بېلتې د ستونزو د حل کمېټه، د بېلابېلو کارکوونکو او سوداګرو د مجازاتو د ميکانيزم کمېټه، د ري اکسپورټ د ميکانيزم کمېټه، د يو ډول ګمرکي رژيم د تطبيق کمېټه، د بيو او لومړنيو توکو د تعرفې د ميکانيزم کمېټه، د لېږد فورم له تخلفاتو څخه د مخنيوي کمېټه، د ريسک منجمنټ کمېټه، ګمرکي لومړنيو حقيقي اسنادو ته د لاسرسي کمېټه، د فيس ټرانزيک د لوړوالي او په داخلي بازارونو کي د تخليې د مخنيوي کمېټه، د جواز ورکوني په برخه کي د تخلفاتو د مخنيوي کمېټه، د سيسټمونو د پراختيا کمېټه، له تاسيساتو څخه د ګټه اخيستي او استراس د انتقال کمېټه، د ګمرکي محصول د ارزوني او ګمرکونو د موقعيت بدلون کمېټه، په ګمرکونو کي د بانکونو د څانګو د پرانيستې کمېټه، په ګمرکونو کي د عصري تکنالوژۍ د نصب او ګټې اخيستني کمېټه، په ګمرکونو کي د پروسې د اسانتيا رامنځته کولو کمېټه، د ګمرکونو د معياري کېدو په موخه د تاسيساتو او تجهيزاتو د ارزوني کمېټه او د سينګل وينډو سيسټم د تطبيق ارزونې

# د هیواد د ډبرو سکاره د ملي عوایدو یوه لویه برخه جوړوي

ځينو بهرنيو رسنيو د ډبرو د سکرو په هکله ليکي، چي په دې وروستيو کي د افغانستان د ډبرو سکاره ګاونډيو هيوادونو ته په پراخه کچه قاچاق کيږي. دوی ادعا کړې چي په ورځني ډول په لسګونو بار وړونکو لاريو کي سويلي ولايتونو له لاري له کوم محصول پرته تر پوله اوړي او په ارزانه بيه په ګاونډي هيواد کي پلورل کيږي.

په دې تړاو د ماليې وزارت نظر په لاندي ډول دئ:

د افغانستان ټول سرحدي ګمرکونه او بندرونه د ګمرکي مسؤلينو تر کلک څار لاندي دي، چي د امنيتي مسؤلينو په شمول دوی هيڅ چاته اجازه نه ورکوي؛ ترڅو د افغانستان له لوري توکي ګاونډيو هيوادونو ته په قاچاق او نا قانونه توګه تېر او يا هم افغانستان ته را انتقال کړي.

د ماليې وزارت له رسمي پاڼو په ځلونو خبرونه خپاره سوي دي، چي د ځينو ګمرکونو د پلټنې مسؤلينو په وار- وار ناقانونه او قاچاقي توکي نيولي او تورن کسان يې د قانون منګولو ته سپارلي دي.

د ډبرو د سکارو صادرات د ماليې وزارت د ملي عوايدو يوه ستر برخه ده، چي ټوله عوايد يې د دولت خزانې ته سپارل کيږي.

د اسلامي امارت له واکمنېدو راورسته عوايد د تير په پرتله خورا لوړ سوي دي:

له ۱۳۹۹ل کال سنبلې څخه تر ۱۴۰۰ل کال حمل پوري د ډبرو د سکرو د صادراتو ګمرکي ارزښت ۱،۰۱ ميلياړده افغانۍ دي او ورڅخه راټول سوي عوايد ۲۴۴ ميليونه افغانۍ کيږي.

په داسي حال کي چي د ۱۴۰۰ل کال د سنبلې مياشتي څخه د ۱۴۰۱ل کال حمل مياشتي تر وروستيو پوري د صادر سوو ډبرو سکرو ګمرکي ارزښت ۱۶،۲ ميلياړده افغانۍ دئ او ترې ترلاسه سوي عوايد ۳،۹ ميلياړده افغانيو ته رسيږي.

همدا شان تېر کال د ټن له حسابه (۱۴۵۹۸۸ ټنه) او په روان کال کي (۱۹۳۰۸۴۵ ټنه) ته يې د صادراتو کچه رسيږي.

د ماليې وزارت په خاصه پاملرنه او ټينګار په افغانستان کي هيڅ ډول اموال د غير قانوني لارو اوبېله ګمرک څخه نه صادريږي.




# د اسلامي امارت له واکمنېدو سره سم ماليې وزارت کي د فساد کچه صفر ته راټيټه سوې ده

د افغانستان اسلامي امارت پر هيواد د بشپړ واکمنېدو را وروسته ماليې وزارت مشرتابه په ټينګ هوډ او ايمانداري سره د هيواد په عايداتي برخو کي د فساد سره د مبارزې په لار کي ستري لاسته راوړني لري. کله چي اسلامي امارت د افغانستان واک په لاس کي واخيست په ځانګړې توګه ماليې وزارت له تير حکومت څخه ورته له فساد ډکې اداري ور پاته وې، چي د هېواد په ګمرکونو او عوايدو کي لويې غلاوي او فسادونه کېدل، تر دې چي افغانستان په نړيواله کچه د مفسدو هيوادونو په درجه بندۍ کي لومړی مقام ترلاسه کړی وو. ماليې وزارت مشرتابه د فساد سره د مبارزې لپاره د ماليې وزارت اړونده عايداتي برخو کي داسي ژمن، هيوادپاله، ايمانداره او مسلکي کادرونه وګومارل، چي له هره اړخه ئې د فساد د مخنيوي هڅي په چټکۍ رواني کړې، له نېکه مرغه اوس د عوايدو کچه پر لوړېدو ده، ډېری عوايدي سرچيني بيا فعاله سوي، له فساده پاک عوايد را ټولېږي، له ماليات تېښتي له منځه تللي دي، سوداګر او هيوادوال په ورين تندي او ډاډه زړه دولت ته خپل ماليات ورکوي، د هيواد په ګمرکونو کي مسولين کلک او ويښ ولاړ دي، څو ځله د همدې ويښو مسولينو په هڅو د قاچاق او ډېرو فساد لړونکو قضيو مخنيوی سوی، چي دا د اسلامي امارت خپلو ژمنو ته د وفادارۍ ستري عملي نښې ګڼل کيږي. لنډه دا چي، د افغانستان اسلامي امارت - ماليې وزرات په خپل تدبير، سپېڅلتيا، کاري غوره والي او تقوا په مټ اداري فساد له منځه يووړ، په عايداتي سرچينو کي ئې د فساد کچه صفر کړه او عوايد ئې په شفاف ډول د هيواد د بيت المال برخه وګرځول.

# رهنمود تثبیت مالیهٔ ثابت (اصناف)

**مالیه دهندگان محترم!**

مطابق قوانین مالیاتی کشور، هر شخص که آغاز به فعالیت کاری یا تجارتی مینماید، مکلف به اخذ نمبر تشخیصیه مالیه دهنده و پرداخت مالیه میباشد.

طرز تعیین مالیه ثابت اصناف توسط ادارات مالیاتی دارای مراحل ذیل میباشد:

مرحله اول: بعد از اینکه یک شخص به فعالیت دکانداری آغاز نمود، کارمندان ادارات مالیاتی به تثبیت مالیه آن مراجعه می نمایند.

مرحله دوهم: از شخص مذکور جواز فعالیت و آغاز فعالیت را جویا می شوند.

مرحله سوم: برای هم ثبت مالیه دهنده، ذریعه استعلام از ناحیه مربوطه و مالک جایداد خواهان معلومات می شوند.

مرحله چهارم: مطابق قوانین و طرزالعملهای مالیاتی مالیه دکاندار را تثبیت می نماید.

مرحله پنجم: سنجش مالیه مطابق احکام ماده های ۷۴ و ۷۵ قانون مالیات بر عایدات که فارمول محاسبوی آن (فروشات روز، ضرب ۳۰۰ روز، منفی ۱۵۰۰۰۰، ضرب ۱.۵ فیصد) می باشد، صورت می گیرد.

مرحله ششم: بعد از تثبیت مالیه، موافقه دکاندار اخذ می گردد.

مرحله هفتم: هر گاه مالیه تثبیت شد، همه اسناد مذکور به بخش دیتابیس ریاست مالیه دهندگان کوچک در مرکز و در ولایات به اداره مالیاتی مربوطه جهت ثبت ارسال می گردد.

مرحله هشتم: شخص مالیه دهنده می تواند مالیه خود را به شکل ربعوار و سالانه تحویل بانک نماید.

مرحله نهم: مالیه دهنده برای اخذ تعرفه به حوزه مالیاتی مربوطه مراجعه نموده و بعد از تحویلی در بانک، با کاپی رسید مبلغ پرداخت شده جهت ثبت اسناد دوباره به حوزه مالیاتی مربوطه مراجعه می نماید.

**مالیهٔ ما، کشور ما، آیندهٔ ما**

شتمني
SHTAMANAI

# مالیې وزارت د عوایدو د حقوقي خدمتونو له رئیس ښاغلي «ندا محمد صدیقي» سره د شتمني د خبریال «اجمل زاهد» ځانګړې مرکه

زاهد: **تاسي د عوایدو عمومي ریاست لپاره څه ډول خدمات وړاندي کوئ؟**

**صدیقي:** د عوایدو د حقوقي خدمتونو ریاست د عوایدو د عمومي ریاست لپاره یو حمایوي ریاست دئ، په دې مانا چې د عوایدو ټولو برخو ته حقوقي خدمتونه وړاندي کوي، که هغه د عوایدو داخلي اداري دي، خپلي د عوایدو عمومي ریاست او که په ولایاتو کي مستوفیتونه دي او یا هم که هغه انفرادي اشخاص دي یا شرکتونه دي، هغه داسي، چې د مالیاتي قوانینو، طرزالعملونو، رحنمودونو برخه او یا په ټوله کي د مالیاتو په برخه کي چې مالیاتي ادارو ته کومي ستونزي راجع کیږي او یا مالیه ورکوونکو ته ستونزي پیدا کیږي، بیا دوی د قوانینو د وضاحت او تفسیر په اړه غوښتنه کوي، بیا موږ دوی ته د قوانینو، طرزالعملونو او په ټوله کي د تقنیني اسنادو سره سم وضاحت وړاندي کوو، چې ډېری وخت دا وضاحتونه په کتبي شکل سره وي.

زاهد: **د اسلامي امارت له واکمنېدو را وروسته د مالیاتي پالیسیو د توسعه د پراختیا په برخه کي مو کوم ګامونه اخیستي؟**

**صدیقي:** د اسلامي امارت تر حاکمیت وروسته پرله پسې موږ د مشرانو هدایت او د کابیني مصوبې او پرېکړي را رسېدلي دي، بلخصوص څلورمه مصوبه او نهمه مصوبه تکراراً، چې نافذه قوانینو د بیا کتني غوښتنه یې کړې ده، له ټولو اداراتو څخه، چې په هغه کي د مالیې وزارت هم یوه اداره ده او مالیاتي قوانین هم د دې قوانینو یو اړخ دئ، د مشرانو د دې هدایت سره سم، موږ د عوایدو د عمومي رئیس په وړاندیز باندي یوه کمېټه جوړه کړه، چې په دې کمېټه کي د عوایدو د برخي مختلف متخصصین ملګري، مسلکي کسان، دیني علماء کرام په دې کمېټه کي داخل کړل، د دې لپاره، چې موږ د قوانینو، طرزالعملونو، رحنمودونو یا په مجموع کي ټول هغه تقنیني اسناد، چې د عوایدو په برخه کي یا د مالیاتو په برخه کي موږ ورڅخه استفاده کوو، له سره وګورو. د دې لپاره موږ درې معیاره کښېښودل؛ لومړی معیار دا چې په څلورمه مصوبه کي د کابینې له طرفه هدایت سوی دئ، چې ټول قوانین باید له اسلامي شریعت سره مطابقت ولري، نو په دې اساس موږ لومړی په کمېټه کي دا معیار وضعه کړ، بل هدایت د کابینې د نهمي مصوبې پر اساس باندي، چې ټولو تاجرانو، صنعتکارانو ته باید سهولتونه ایجاد سي، دا قوانین د دې سهولتونه له اړخه هم تر نظر تېروو، ترڅو موږ وکولای سو په مالیاتي برخه کي تجارانو ته ممکنه سهولتونه ایجاد کړو، بل دا چې په همدې مصوبه کي دا یادونه هم سوې ده، چې سخت اداري پروسیجر یا په اصطلاح سخت اداري اجراات، د دې لامل کیږي چې کارونه وځنډوي او یا هم اداري فساد ته لاره هواره کړي، موږ وکولای سول، چې په مالیاتي قوانینو کي دا سخت اداري پروسجر له منځه یوسو، چې تر دې مهال پر عایداتو د مالیاتو قانون یې یوه ښه بېلګې ده، چې د کمېټې لخوا کامل کتل سوی دئ؛ نو په همدې موده کي زموږ دغه کړنې دي، چې ترسره کړي مو دي.

زاهد: **آیا ستاسې مشتریان (مالیه ورکوونکي) په حقوقي برخه کي کافي اطلاعات لري؟**

**صدیقي:** ډېري ښې پوښتني ته مو اشاره وکړه، لکه څنګه چې تمه او توقوع کیده مالیه ورکوونکي هغومره معلومات نه لري، ډېری داسي کسان دي چې د خپلي مالیې له نورم څخه حتی ندي خبر، که څه هم د عوایدو لوی ریاست له لوري د عامه پوهاوي برخه کي ډېر کارونه سوي دي. ټول طرزالعملونه، حقوقي اسناد د عوایدو د سایټ له لاري اعلان سوي دي. هغه مهم موضوعات چې مالیه ورکوونکي ډېر ورسره مخ کیږي، د بروشرونو په شکل یا د رحنمودونو او لارښودونو په شکل چاپ سوي دي او تر مالیه ورکوونکو رسېدلي دي. په کال موږ یوه مالیاتي اونۍ لرو، چې په دې پروګرام کي هم ځیني پرزینتیشنونه چمتو کیږي او مالیاتي ادارو له لوري مالیه ورکوونکو ته وړاندي کیږي او همدارنګه ځیني تعلیمي پروګرامونه هم ورته چمتو کیږي؛ خو له دې سره - سره بیا هم لکه څومره چې تمه کیږي، مالیه ورکوونکي هغومره معلومات نه لري؛ خو موږ امید لرو، چې په روان کال کي وکولای سو، د عامه پوهاوي ګڼ پروګرامونه چمتو کړو، که هغه د سمینار په شکل وي، یا هم رسنیو له لارې وي، ترڅو مالیه ورکوونکي له اړینو معلوماتو برخمن سي.

زاهد: **ستاسې له نظره څه شی د مالیې د ورکړې څخه د تېښتي لامل کیږي؟**

**صدیقي:** په تېر وخت کي ډېر داسي لاملونه وو، چې مالیه ورکوونکو له مالیې څخه تېښته کوله او یا دا چې نه حاضرېدل چې کافي اندازه مالیه ورکړي. په ډېر ګمان چې سخت اداري پروسیجر، د قوانینو دروندوالی، په مالیاتي ادارو کي د ځینو همکارانو لخوا په ځینو موضوعات د خنډونو ایجاد او ځیني نور مسایل وو، چې مالیه ورکوونکو د مالیې ورکړې ته زړه نه ښه کاوه. خو الحمدالله د اسلامي امارت تر حاکمیت را وروسته دا موضوع برعکس سوې ده، ډېر داسي کسان چې مالیه یې نه ورکوله او حتی په کلو یې نه وه ورکړې او راځي او د خپلي مالیې تصفیه په خپله خوښه کوي، چې دا ډېر د خوشحالۍ ځای دئ.

زاهد: **مالیاتي جریمې څه دي او په تېرو کلونو کي یې معافیت څه ډول وو؟**



**صدیقي:** هغه کسان چې مالیه پر خپل ټاکلي وخت نه ورکوي، یا په مالیه کي کتمان کوي یا هم له مالیې څخه تېښته کوي؛ د دې لپاره چې دغه کسان بېرته عادي حالت ته را وګرځي او اطاعت منونکی سي، نو په مالیاتي قوانینو کي ځیني مالي جریمې ورته پېشبیني سوي دي، چې هغه مالي جریمې د دې لامل کیدې چې هغه کسان چې د مالیې ورکړي ته اطاعت منونکی نه وو، بېرته اطاعت منونکی سي. د معافیت په اړه به دا ووایم، چې موږ د حقوقي خدماتو په ریاست کي موږ د معافیتونه یو آمریت لرو، چې هغه د مالیاتي معافیتونه موضوعاتو باندي کار کوي. ځینو وختو ته په کتو به د مشرانو غوښتنه دا وه، چې ځیني موضوعات مالیه ورکوونکو ته معاف کړي، مثلاً په تېر کال کي مو د اسد له ۲۴ نېټې څخه د حوت میاشتي تر ۲۹ نېټې پوري ټولي مالي جریمې که هغه هر ډول وې، د مشرانو د هدایت پر اساس معاف کړې.

زاهد: **ډېره مننه صدیقي صاحب، که په پای کي ولس ته څه پیغام لرئ مهرباني وکړئ؟**

**صدیقي:** اوس مهال چې الله تعالی یو اسلامي نظام دلته قایم کړی دئ، چې د هر فرد هیلي پکښي نغښتي دي، نو داسې یو نظام مالي حمایه پر موږ لازمه ده، د حمایې یو لاره د مالیې پر وخت ورکړه ده، نو که چیرې افغانان دا احساس وکړي، چې خپله مالیه پر ټاکلي نورم د اصولي له مخي د دولت په حساب کي جمعه کړي، نه یوازي دا چې دولت په مالي لحاظ پیاوړی سوي وي، بلکي دولت په کولای سي، چې د دوی د مالیې په وسیله بېرته دوی ته عامه خدمتونه وړاندي کړي؛ نو له افغانانو مو هیله دا ده، چې پوره مالیه پر خپل ټاکلي وخت د دولت حساب ته ورکړي.

زاهد: **د عوایدو د حقوقي خدمتونو رئیس ښاغلی ندا محمد صدیقي ډېره مننه چې د مرکي وخت مو راکړ کور ودان.**

**صدیقي:** خدای دې خیر درکړي، ستاسې څخه هم مننه.

## د مالیې وزارت او اړوندو ادارو په تائید به نفت او ګاز را واردېږي

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء د اقتصادي چارو مرستیال ملا عبدالغني برادر په مشرۍ د وزیرانو شورای د اقتصادي کمېسیون ناسته ترسره سوه.

په دې ناسته کي د یو شمېر نورو اقتصادي مسایلو ترڅنګ وویل سول، چې له دې وروسته به ټول نفتي توکي او مایع ګاز د نفتو او ګازو دولتي شرکت تر ریاست لاندي له مالیې صنعت او سوداګرۍ وزارتونو او د نورم او سټنډرډ اداري څخه جوړي سوي مختلطي کمېټې له تائید څخه وروسته هیواد ته واردېږي.

د افغانستان د نفتو او ګازو دولتي شرکت له خوا په انحصاري توګه د خامو نفتي موادو د تورید اړوند پیشنهادي طرحه تصویب ده. د راتلونکي ۱۴۰۱ کال له حمل میاشتې وروسته، خصوصي شرکتونه د کاندنسات ګازو او خامو نفتي موادو د ورود اجازه نه لري. د صنعت او سوداګرۍ وزارت، د نفتو او ګازو دولتي شرکت او د نورم او سټنډرډ ملي اداري څخه جوړي مختلطي کمېټې ته دنده سپارل کیږي، څو د یو شفاف میکانیزم له مخي د یادو موادو (تورید څخه پیل، د فابریکې او پالایشګاه له خوا تر مصرف پوري) له پروسې څخه هر اړخیز نظارت ترسره او وقتاً فوقتاً اقتصادي کمېسیون ته راپور وړاندي کړي.



## د مکروریانونو د اوسېدونکو لپاره د څښاک اوبو د ۷ څاګانو د کیندنو پروژه پرانیستل سوه

په همدې موخه د مکروریانونو د تدویر ساتني او څارني دولتي شرکت په تالار کي غونډه جوړه سوې وه، چې پکښې د دولتي شرکتونو عملیاتي او فني مرستیال انجنیر محمد مجاهد انصار، د کوار موسسې استازي انجنیر حبیب الرحمن حیدر، د مکروریانونو د تدویر ساتني او څارني شرکت رئیس غلام عمر عبدالله، د مکروریانونو د خلکو استازي محمد شیرزاد او یو شمیر نورو کسانو ګډون کړی وو.

په پیل کي د دولتي شرکتونو فني او عملیاتي مرستیال خبري وکړې او وې ویل: د څښاک اوبو د ۷ څاګانو د کندنو دغه پروژه د مکروریانو درنو اوسېدونکو لپاره د ښو خدمتونو وړاندي کولو په موخه په لاره اچول سوې ده، چې په ګټه اخیستني سره به یې د مکروریانو د اوسېدونکو د څښاک اوبو د کمښت ستونزي حل سي.

انجنیر محمد مجاهد انصار یادونه وکړه، چې د مکروریانونو د اوسېدونکو لپاره د څښاک پاکو اوبو برابرولو تر څنګ، د حفظ الحي، د پلیو لارو د ترمیم، د شنو ساحو د ساتني، د مرکز ګرمیو ترمیمول، د تصفیه خانو فعالول او د کانالیزاسیون تخلیه د یاد شرکت له ستراتیژیکو موخو څخه دي او دوی به په دې برخه کي خپلي هڅي جاري ساتي.

د کوار موسسې استازي حبیب الرحمن حیدر وویل: دغه پروژه په دوه برخو چې د څښاک اوبو برابرولو او حفظ الصحي برخه ده ویشل سوې ده، چې په درې میاشتو کي به ګټې اخیستني ته وسپارل سي.

د مکروریانونو د تدویر ساتني او څارني دولتي شرکت رئیس غلام حیدر عبدالله د یونیسف له اداري او اکوار موسسې څخه د دوی د بشرپالو مرستو ترسره کولو له امله د منني او قدردانۍ ترڅنګ وویل: دوی د اوبو د ښه مدیریت، د سړکونو او مرکز ګرمیو د ترمیمولو لپاره منظم پلانونه لري، چې ډېر ژر به په عملي توګه پیل سي.

د یادوني وړ ده، چې د مکروریانونو اوسېدونکو د یادي پروژې په لاره اچول یو ګټور ګام وباله او د منني تر څنګ یې د هر ډول همکارۍ پوره ډاډ ورکړ.



شتمنی SHTAMANAI

## د تعرفې د کمېټې ناسته جوړه سوه



د مالیې وزارت د گمرکونو او عوایدو مرستیال حاجي ملا محمد ناصر اخند، په مشرۍ د تعرفې د کمېټې ناسته نن د گمرکونو او عوایدو معینیت د غونډو په تالار کي جوړه سوه.

په دې غونډه کي چي د تعرفې د کمېټې غړو گډون کړی وو، په پیل کي د گمرکونو او عوایدو مرستیال ټولو گډونوالو ته هرکلی ووایه او د تعرفې کمېټې د ارزښت بیانولو تر څنګ یې وویل، چي د تعرفې کمېټه له څو ادارو او خصوصي سکټور څخه جوړه کمېټه ده، چي پرېکړې یې په سوداگرۍ، داخلي صنعت او عامو خلکو باندې مستقیم اغېز لري نو په کار ده چي د دې کمېټې ټولي پرېکړې د یادو درې واړو اړخونو په خیر وي.

همداشان له اجنډاء سره سم د گمرکونو لوی ریاست د تعرفې رئیس د مکروني، یو ورځنیو چورگوړو او د ژوندیو چرگانو، چپس، ساده او کاکو لرونکو چاکلیټونو د وارداتي تعرفو او د ډبرو سکرو د صادراتي تعرفې په اړه هر اړخیز معلوماتي پریزنټیشن وړاندي کړ او د یادو اقلامو د تعرفې په اړه یې د سوداگرو او صنعتکاراتو غوښتني د غونډې له گډونوالو سره شریکي کړې.

د تعرفې کمېټې غړو د یادو اقلامو پر تعرفې هر اړخیز بحث وکړ او له کورني تولید څخه د ملاتړ، سوداگرۍ او دولتي عوایدو د ودي اصل ته په کتو سره یې په اړه لازمي پرېکړې وکړې همداشان په سوداگرۍ کي د اسانتیا لپاره په یاده کمېټه کي د ساده چاکلیټو او چپسو لپاره د تعرفې ملي کوډونو په جوړېدو هم پرېکړه وسوه.

# نقش زراعت در رشد اقتصادی



محمد طاوس فزراد
کارشناس اداره کمک ها

از سال ها به این‌سو، تلاش‌های وسیعی برای مدیریت آب و زمین به منظور تقویت و توسعه‌ی بخش زراعت در کشور جریان دارد؛ حکومت‌های افغانستان با همکاری کشورها و سازمان‌های جهانی تلاش کرده‌اند که هر سال بخش بیشتری از زمین‌ها زراعتی را آبیاری کنند، آبیاری زمین‌های کم‌آب را بهبود ببخشند و یا از طریق اصلاح بذرها، ترویج فناوری زراعتی و گسترش زراعت مدرن، به توسعه و بهبود این بخش گام‌های لازم را بردارند. زراعت افغانستان با مشکلات جدی‌ای دست‌به‌گریبان است: کاهش مداوم میزان بارندگی، تکرار خشکسالی، ابتلا به آفات گسترده‌ی زراعتی، کمبود نیروهای انسانی ماهر و پایین بودن زراعت مکانیزه و تجهیزات زراعتی، بخشی از این مشکلات است. هرچند میلیون‌ها دالر از طریق بودجه‌ی داخلی و همکاری‌های جهانی برای مقابله با این مشکلات مصرف شده است، ولی هنوز مشکلات بر این بخش تأثیرات ناگواری می‌گذارد. از طرفی دیگر، افغانستان در بخش‌هایی از محصولات زراعتی مانند کشت زعفران، پنبه، میوه‌جات، همچنان در بخش‌های مدیریت آب‌ها، زمین و روش‌های نوین زراعتی پیشرفت‌های خوبی هم داشته است. زراعت در افغانستان از استعداد فراوانی برای رشد و توسعه برخوردار است و می‌تواند ماشین اصلی برای رشد اقتصادی کشور باشد.

**اهمیت زراعت**

زراعت یک بخش راهبردی و کلیدی برای افغانستان است. اگر در یک دهه‌ی آینده، زراعت در افغانستان سالانه حداقل ۵ درصد رشد کند، می‌توان فقر را در روستاهای افغانستان مهار و مواد غذایی مورد ضرورت کشور را تأمین کرد. طبق مطالعات انجام شده، آب و هوای افغانستان برای توسعه‌ی زراعت و کشت گونه‌های متفاوت زراعتی بسیار مساعد است؛ به گونه‌ی مثال: زعفران افغانستان در سه سال گذشته به گونه‌ی پیهم در نمایشگاه سالانه‌ی انستیتوت بین‌المللی ذایقه و کیفیت در اروپا، نخستین مقام را دریافت کرد، میوه‌های تازه و خشک افغانستان نیز بهترین کیفیت را دارند که با پروسس، بسته‌بندی و علامت‌گذاری معیاری می‌توانند با تولیدات مشابه از کشورهای منطقه و فرامنطقه به خوبی رقابت کنند.

**سهم زراعت در تولید ناخالص داخلی**

با وجود این‌که زراعت در سال‌های ۱۳۸۳ - ۱۳۸۷ در تولید ناخالص داخلی سیر نزولی داشته، اما در سال‌های اخیر، این بخش بین ۲۲ تا ۳۳ درصد از عواید ناخالص داخلی را تشکیل داده است. طبق گزارش اداره‌ی احصائیه‌ی مرکزی، در سال ۱۳۹۵، ارزش افزوده‌ی بخش زراعت ۲۷۷۰۴۷ میلیون افغانی بود. به این ترتیب ۲۰,۸ درصد از تولیدات ناخالص را تشکیل داده است و نسبت به سال ۱۳۹۴، ۱۲,۴درصد رشد را نشان می‌دهد.

**سهم زراعت در صادرات**

در گذشته افغانستان یکی از صادرکنندگان مهم محصولات زراعتی به ویژه میوه‌جات بوده.

خوشبختانه سال‌های گذشته نشان می‌دهد که صادرات محصولات زراعتی به ویژه میوه‌جات و حتا عسل رو به افزایش است و پیشبینی می‌شود که در سال‌های نزدیک، افغانستان یکی از تأمین‌کنندگان محصولات زراعتی در منطقه باشد. افزایش سبزخانه‌ها و محصولات آن‌ها نشان‌دهنده‌ی تقاضاهای منطقه‌ی محصولات سبزخانه‌ی کشور است و صادرات آن در حال افزایش.

**سهم زراعت در کارآفرینی**

طبق گزارش بانک جهانی در سال ۱۳۹۲، تعداد افراد واجد شرایط کار در افغانستان حدود ۱۵ میلیون نفر بود. از این میان، دو بخش صنعت و خدمات هر کدام ۱۰ درصد نیروی کار را به خود اختصاص داده و ۸۰ درصد دیگر آن در بخش زراعت و مالداری مشغول به کار هستند. این نشان می‌دهد که ۱۲ میلیون نفر در بخش زراعت کار می‌کنند. گزارش بانک جهانی در سال ۱۳۹۵ تصریح می‌کند که ۹۰ درصد صنایع تولیدی بر محصولات زراعتی وابسته است. در صورتی که مولدیت زراعتی افزایش یابد و زمین‌های مزروعی توسعه داده شوند، زراعت می‌تواند حدود ۱,۲ درصد رشد اقتصادی سالانه و ایجاد ۱,۲ میلیون شغل جدید را طی یک دهه‌ی آینده به بار آورد. با توجه به تمام این موارد، باید گفت که بستر زراعت افغانستان برای سرمایه‌گذاری کاملاً بکر و دست‌نخورده است. تا کنون سرمایه‌گذاری بزرگی در این بخش انجام نشده و از سرمایه‌گذاری اندکی که توسط بخش خصوصی صورت گرفته نیز به خوبی استقبال شده است.

# د مالیې وزارت د کورنۍ پلټنې عمومي ریاست کړني او لاسته راوړني

د کورنۍ پلټنې عمومي ریاست چي د مالیې وزارت له کلیدي ادارو څخه شمېرل کیږي، د مالي کال په جریان کي په دوامداره توگه د مالي او حسابي فعالیتونو د څارني او ارزوني دنده پر غاړه لري. دغه ریاست له مالي معاملاتو څخه د منظمي عیني څارني په ترڅ کي هڅه کوي، چي د مالي معاملو له شفافیت، حسابي وضعیت، د عایداتي باقیاتو او لگښتونو مشخصول، د اسلامي امارت د اقتصادي کړنلاري د تطبیق، د عامه، منقول او غیر منقولو شتمنیو څخه د ساتني او ښې گټې اخیستني او په ټوله کي د مالیې وزارت د اړوندو ادارو په چارو کي د چټکتیا رامنځته کولو، د عوایدو د زیاتوالي د بودیجې د ټینگښت او مصرف په تړاو څارنه وکړي او ډاډ ترلاسه کړي. یاد ریاست د خپلو چارو د اغیزمنتیا، د شفافیت د ټینگښت او د مسؤلینو د خپل سرو کړنو د مخنیوي په موخه له پرمختللي عصري ټکنالوژۍ څخه کار اخلي. دغه ریاست همدا رنگه په فساد ککړي غیر قانوني کړني را برسیره کوي او سرغړونکي یې د مالیې وزارت د رهبرۍ له ارزوني وروسته عدلي او قضایي ارگانونو ته ورپېژني.

د اسلامي امارت له واکمنیدو وروسته دغه ریاست د خپلو مسلسلو کوښښونو په پایله کي بریالی سوی، چي د پام وړ لاسته راوړني ولري، چي له دې جملې څخه د پلټني عمومي ریاست د رئیس انجنیر عبداللطیف خالد په مشرۍ د چارو د ارزوني او د ادارو ترمنځ د ښې همغږۍ د رامنځته کولو په موخه د هیواد ۲۲ ولایتونو ته ددې ریاست د رهبرۍ پلاوي سفر ترسره کول دي، د ظرفیت لوړوني په برخه کي د زده کړو مختلف پروگرامونه په لاره اچول؛ لکه: د پلټني او محاسبې اساسات، د کمپیوټر اساسات، د بودیجې او خزاینو پلټنه، د گمرکاتو او عوایدو پلټنه، او نوو گمارل سوو کارکونکو ته د خطر په اساس پلټني زده کړه او همدارنگه د دې ریاست د نورو کارکوونکو لپاره د پلټني (تولیکټ) او د پلټني د معلوماتي او مدیریتي سیسټم د زده کړي برابرول. د لومړي ځل لپاره د کمپیوټر جوړوني اجراات او د پلټني فعالیتونه د پلټني مدیریت د اطلاعاتو سیسټم (AUDIT MANAGEMENT INFORMATION SYSTEM) څخه په گټې اخیستني د اغیزمنتیا، چټکتیا او خوندیتوب رامنځته کولو په موخه، د شکایتونو د څارني مدیریتي او معلوماتي سیسټم (COMPLAINTS TRACKING SYSTEM) څخه د ترلاسه سوو شکایتونو ښه څارنه او شکایتونو ته په چټکه توگه رسیدنه او همدا شان دغه ریاست د فساد څو قضیې رابرسیره کړي او د څېړنو په موخه یې عدلي او قضایي ارگانونو ته ورپیژندلي دي.

د یادوني وړ ده، چي د مالیې وزارت د کورنۍ پلټني عمومي ریاست د فساد په وړاندي د مبارزې پیاوړې اراده لري او په ټول قوت سره هڅه کوي تر څو د دولت عواید په سمه توگه را ټول سي او سرچینې په گټوره توگه په مصرف ورسیږي.

# اعلان داوطلبی

موضوع: به اعلان سپردن ۳ جایداد دولتی واقع ناحیه١٦ و٨ ولایت کابل.

قرار است ریاست عمومی املاک دولتی یک تعداد جایدادهای دولتی ذیل را در مرکز طور جداگانه بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی سپرده شود که مشخصات آن قرارذیل است.

١- موازی ٥١٠ مترمربع زمین سفید واقع سمت شرق هوتل ستاره شب چمن حضوری ناحیه٨ ولایت کابل

٢- موازی ٧٥٦٨,٥٠مترمربع زمین دارای یکباب هنگر واقع چهارراهی ملی بس ناحیه١٦ ولایت کابل

٣- موازی ٢٨٥٢,٨٦ مترمربع زمین دارای یکباب هنگر واقع چهارراهی ملی بس ناحیه ١٦ ولایت کابل

اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان اشتراک در پروسه داوطلبی جایداد های فوق را داشته باشند، می توانند بعد از تاریخ نشراعلان الی مدت (١٤) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاک دولتی واقع تعمیر ١٤ منزله سینما پامیر، منزل هفتم مدیریت عمومی قراردادهای مرکز تسلیم نموده، وبعداز ملاحظه اسناد شرطنامه را دربدل مبلغ (٣٠٠٠) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند.

د امتیاز خاوند: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: محمد نبي سلطاني
کتنپلاوی: اجمل زاهد او محمد ابراهیم گران
د خبر مدیر: داود نظري
خبریال: سید مصطفی سروش
د معلوماتو راټولوونکی: محمد افضل الکوزی
عکاس: فضل احمد یوسفزی
ډیزاینر: محمد نسیم ظهوري

د مالیې وزارت نشرات په لاندي آدرسونو کتلای سئ:
ویبپاڼه: mof.gov.af
ټویټر: @afghanistanmof
یوټیوب: afghanistan mof